Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English

*ISSN: 2584-0975 (Online)*

*Vol.02(02), Apr 2024, pp, 01-06*

*Journal homepage: https://sprinpub.com/smjppe*

*Review article*

# Mystical and artistic innovations in Rahman Baba's poems

# د رحمن بابا په اشعارو کې عرفاني او هنري نوښتونه

***Fazal Wali Nagar***

*Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Nangarhar University, Afghanistan*

**فضل ولي ناګار**

پښتو ژبې او ادب څانګه، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، افغانستان

ARTICLE INFO

ABSTRACT

***Keywords:***
Abdul Rahman Baba, Mysticism, artistry, poetry, philosophy, simplicity

**کلیدي کلمې:** عبدالرحمن بابا، عرفان، هنر، شاعري، فلسفه، ساده ګي

***Article History:***
Received: 15-02-2024
Accepted: 02-04-2024
Published: 06-04-2024

***Cite this Article:***
Nagar, F. W. Mystical and artistic innovations in Rahman Baba's poems: د رحمن بابا په اشعارو کې عرفاني او هنري نوښتونه. Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English, 2(2), 1–6. https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i2.278

Mysticism and artistry are the strongest and best features of notable Pashto poet Abdul Rahman Babas' poetry. Even if there is little known about Abdul Rahman Baba's life and his poetry serves as an internal testament that allows at least some of his mystical approach's events to be identified, researchers have not been able to fully investigate him. Rahman Baba's worldview, impression, and mystical and poetic observations about the major social movements of his day may undoubtedly be attributed to the technical and spiritual aspects of his poetry, which may have inspired him throughout his life. Abdul Rahman Baba's work to address this issue has been acknowledged in this article.

**لنډيز**

د پښتو ژبې د ټولمنلي شاعر عبدالرحمن بابا د شعر فن تر ټولو ستر او غوره اړخ عرفان او هنر دی. که څه هم د عبدالرحمن بابا ژوند په تیاره کې دی او څېړونکي لا نه دي بریالي شوي چې په هر اړخیز ډول یې ډګر ته راوباسي؛ خو د ده شاعري د داخلي شهادت په توګه شتون لري چې لږ ترلږه ترې د ده د عرفاني تګلوري بریدونه په نښه کېدلی شي. د رحمن بابا د شاعرۍ فني او عرفاني اړخ خامخا داسې ځانګړنې لري چې د خپل عصر د سترو ټولنیزو غورځنګونو په باب یې نړۍ لید، تاثر، عرفاني او شاعرانه مشاهده د ده د ژوند هېنداره کېدلای شي. په دې لیکنه کې د عبدالرحمن بابا د همدغسې ځېرنې او څېړنې زیار ګالل شوی دی.

**سريزه**

د رحمن بابا په شعر کې د عرفان او هنري نوښتونو څېړنه يوه ستره او اړينه موضوع ده. د رحمن بابا د فن کمال دا دی، چې د عرفان پیچلي او تاو راتاو اصطلاحات يې د هنر په رنګونو داسې رنګولي، چې ساده‌ګي يې تر «سهل ممتنع» رسېدلې ده. همدا لامل دی، چې عوام او خواص يې يو ډول اغېزمن کړي دي. په دومره توپير چې عام خلک يې د ژبې ساده‌ګۍ، حکيمانه انداز او د رواياتو پلي کولو ته ګوري، خو خاص او د ذوق خاوندان يې د هر شعر په ژورو کې د ده عارفانه ادراک او حقيقت ته د رسېدلو د ښکلاييز انداز مرهون ښکاري. د رحمن بابا په فن او فکر ډېرې ليکنې د يوې موخې او موضوع په باب نه دي را څرخېدلې. همدغه ستونزه ده، چې پر فن و فکر يې مشخصه څېړنه نه ده شوې؛ نو ځکه به دغه ليکنه د رحمن بابا د شعر د يوې ډېرې سترې ربړې عرفاني او هنري نوښتونو په باب څرګندونې لري.

**موخې**

۱. موخه دا ده، چې دلته رحمن بابا د يو شعوري عارف په توګه چې د عرفان ټول مقامات يې سرته رسولي د عرفاني نوښتونه څېړل او روښانول دي.

۲. دلته دا بهير هم ډاګيز شوی، چې رحمن بابا ډېر کشفي مسايل د خپل هنري استعداد پر مټ داسې استدلالي او زړه ناستي کړي، چې د هنر په ښکلي رخت يې دغه ګلکاري نقاشي نه، اصل ښکاري.

۳. هنر او عرفان څه اړيکې لري او د  هنر په پنځولو کې د عرفان ونډه څرګندول.

**Corresponding Author*:
Email: nagarfazalwali[at]nu.edu.af (*F. W. Nagar*)

https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i2.278

© 2024 The Authors. Published by Sprin Publisher, India. This is an open access article published under the CC-BY license https://creativecommons.org/licenses/by/4.0

**مواد او کړنلاره**

دغه څېړنه کتابتوني بڼه لري چې د تشریحي او توضیحي مېتود پواسطه د عرفان او هنر د دوه سترو مفاهیمو جاج پکې اخیستل شوی دی. همدا رنګه د رحمن بابا ادب و فن چې پکې کوم نقش او رسالت لري، په لنډو ټکو کې څرګند شوی، د عرفان او هنري نوښتونو حیثیت ته کتنه شوې او د رحمن بابا افکار او هنري لاسته راوړنې پکې بیان شوې دي.

**د رحمن بابا عرفاني او هنري نوښتونه**

یواځې رحمن بابا نه، زموږ زیاتره کلاسیک شاعران د شعر، تصوف او فلسفې پر مټ د «افاق و انفس» په باب د مفکرانه بصیرتونو او نوښتونو ویاړ لري، خو د دوی تر منځ رحمن بابا ځانګړی مقام لري. هغه د یوه مبلغ او مصلح په توګه ټولنه رهبري کوي. د افغانانو جغرافیایي موقعیت دومره حساس دی، چې پردیو یرغلونو هیڅکله د خپل تشخص او ځانګړنو نړیوال اظهار او ابلاغ ته نه دي پرېښي. د مسؤلیت دغه احساس زموږ روڼاندو شاعرانو ته پاتې دی؛ نو ځکه د یوه «اګاه مسؤل» په توګه رحمن بابا، شاعر، مصلح او مبلغ درې واړه دی او لوی خدای جل‌جلاله پرې داسې ډېرې وړتیاوې لورولې دي. د رحمن بابا زیاتره شعرونه په ټولنه کې د متلونو په ډول کاریږي. دا کومه ساده او اسانه خبره نه ده، رحمن بابا د ټولنې تل ته ورښکته شوی او د شاعرانه دلالتونو، تلازماتو او جمالیاتي ادراک پر مټ یې اعراض څه چې کیفیتونه انځور کړي دي.

رحمن بابا له دې سره سره چې د یوه مفکر او لارښود په توګه ټولنې منلی دی، په هر شعر یې حجت او استدلال کېږي. کره‌کتونکي هم په دې اند دي، چې د یوه تجربه‌کار متخیله ځواک کم وي، ځکه د نظر وړانګې یې په واقعي حقایقو پرېوتې وي. که چېرې یې په کلام کې د تخیل رنګینې وي؛ نو د رهبرۍ (لارښوونې) له ادابو به قاصر (نیمګړی) پاتې شي؛ نو د داسې شخصیتونو په وینا کې باید پخوالي او حکمت ولټول شي، نه تخیل. بیا په داسې حال کې چې رهنمایي ترې غوښتل کېږي او رحمن بابا خو بیا په داسې ټولنه کې ژوند کاوه، چې مغلي امپراتورۍ پر ولس بشپړه برلاسي نه لرله او دغه کشمکش د چنګیز او ګوډ تیمور له زورواکۍ راهیسې د رحمن بابا تر وخته ښه په زور او شور روان و؛ نو رحمن بابا د یوه داسې لوستي، پوه، مفکر، شاعر او عاطفي شخصیت په توګه د ټولنې له رهبرۍ هیڅکله بې تفاوته نه شو پاتې کېدلی، ځکه یې په شاعرانه جذبه او عرفاني ادراک خپله ټولنه داسې جذب کړه، چې دی یې د بابا په لقب ویاړلی او شعر یې د سرتاسري هېواد تلپاتې زمزمه شوه، چې د جوماتونو له منبره تر حجرو او دېرو وغځېدله.

د ژور عرفاني ادراک او پخې محققانه تجربې تر څنګ رحمن بابا ته ستر رب جل‌جلاله د ابلاغ او اظهار داسې ځواک وربخښلی و، چې د حمزه بابا په وینا لسان الغیب رحمن په داسې ژبه شاعري وکړه، چې لا تر اوسه هیڅ پښتون شاعر د ده د اظهار سپېڅلتیا ته نه دی رسیدلی، داسې ښکاري؛ لکه نوې ژبه یې چې اختراع کړې وي. د حمزه بابا دغه نظریه داسې هم سپړلی شو، چې د رحمن بابا ټوله شاعري په سهل ممتنع ولاړه ده، چې له حده وتې اساني ورته ویلی شو.(شینواری، ۲۰۱۳. ۲۳۵م).

د څېړونکو په اند رحمن بابا ځکه د ټولنې د سمون لپاره مبلغانه مفکوره خپله کړه، چې له یوې خوا د پښتنو مشرانو ایمل خان، دریا خان او خوشحال خټک غورځنګونه تت شول او له بل اړخه مغلي امپراتورۍ د اورنګزیب له وفات وروسته د ده د زمانو د بې اتفاقۍ او جګړو له امله پر پښتونخوا خپل نفوذ له لاسه ورکړی و. که څه هم مغلو له اوومې پېړۍ راهیسې له پښتنو سره په هر دور دومره ښه سلوک نه کاوه؛ لکه الغ بیګ له یوسفزو سره او همداسې ورپسې اکبر، جهانګیر، شاه جهان او اورنګزیب هم و. رحمن بابا ځای ځای پخپلو شعرونو کې داسې پېښو ته هم اشاره کړې ده؛ لکه د جمال خان بده پېښه.

په عیسی او په جمال کې ګناه نشته
دا مکرونه دي د نفس او د شیطان
مکاري د دې دنیا څه هومره نه ده
چې رحمن یې چا ته وکاندي بیان
(رحمن بابا، ۱۳۹۳. ۲۱۰م).

له دې شعره ښکاري، چې په پېښه کې د مغلو لاس و. دا وخت د کابل مغلي واکمن ناصر خان و. له یوې خوا یې د جمال خان د زوی واده له دوه زره روپۍ را ولېږلې او له له بل اړخه پرې د عیسی چپاو او ټول کور، اولاد او ملاتړي یې سیزل یوه خواشینوونکې پېښه ده، رحمن بابا پخپل شاعرانه اسلوب د نفس و شیطان مکر ګڼلی دی.(کامل مومند، ۱۳۸۲. ۱۰۱م).

دا څرګنده ده، چې شاعر یا فنکار په ځانګړي ډول نثر لیکونکي چې فکري عناصر پر مخ وړي، هغه په جذبه داسې نه شي پوښلی؛ لکه شعر چې وي، ځکه دلته تعقل او تفکر پر خیال او تخیل پاچاهي کوي؛ نو په طبیعي ډول به په نظم کې پختګي،

ژورتیا او حکیمانه پیغام وي، خو تغزل او شعریت چې مطلق حسن دی. هغه به کمزوری وي، خو د دې مطلب دا نه دی، چې دغه شاعري به کمزورې وي، نه د شعر نور بارز اړخونه هم شته، چې شعر ته افاقیت ورکولی شي؛ لکه ساده‌ګي، تناسب، تلازم، ژبنۍ خوږلني، د تالیف ځواک د اظهار و ابلاغ قوت او همداسې نور چې د رحمن بابا شاعري یې تلپاتې کړې ده. د خیال ځلا د شعر هغه ځانګړی صفت دی، چې رحمن بابا په ګڼو الفاظو کې کله د غربزي هماهنګی، کله د معنوي پیوندونو کله د دواړو له امتزاج او کله د نورو تلازماتو په کارونه داسې رمزي کیفیتونه پیدا کوي، چې دلالتونه یې تر لېرې لېرې خوریږي. کومه معنی چې له الفاظو نیغ په نیغه او سمدستي نه راڅاځي، لوستونکی یې ځلا په رمزي او ایمایي کیفیتونو کې ګوري. دلته الفاظ شاته پاتې کېږي او معنی ډېره مخکې ځي.

د رمز، سېمبول او استعارې د کارونې په باب د غربي پوه (مالارمه) خبره ډېره پر ځای ده، چې که یو شی پخپل اصلي نوم یاد کړو، د وینا له څلورو نه درې برخې ښکلا او خوند مو له منځه وړي، ځکه هغه زیار چې ذهن یې د معانیو د ایجاد او خیال جوړوونکو اجزاوو تر منځ اړیکې ټینګوي، یعنې د اړیکو ټینګولو لپاره وي، له منځه ځي او د لټون خوند نشت کېږي. (شفیعی کدکنی، ۱۳۶۸. ۱۰۸م).

د طلب او ګټې د لاسته راوړنې لپاره د رحمن بابا شعري تلازمات د کتنې وړ او یو عجیبه استدلال دی.

روښنايي مې په طلب کې شوه حاصله
شپه او ورځ لکه افتاب په لار روان یم
(رحمن بابا، ۱۳۹۳. ۴۰۱م).

خو کله چې د ښکلا او مینې د جذب او کشش خبره وي، داسې لنډ، ښکلاییز او زړه ناستی انځور وړاندې کوي، چې مثال نه لري.

یا په جام کې ستا د مخ عکس لیده شي
یا خو تندر تجلی کړي په حباب کې
(رحمن بابا، ۱۳۹۳. ۲۰۱م).

د تشبیه ندرت، د جمال او جلال عکسونه دا ښتیا کوي، چې د جمال د ظهور شدت جلال دی او بس. پروفیسور ډاکتر اباسین یوسفزی لیکي: ډېر شاعرانه اصطلاحات، تشبیهات، اشارې او کنايي مورږ کارو، خو د دې اصل مؤجد رحمن بابا دی... په دغې کې د علامتونو او خیالونو سره سره ګڼ تشبیهات داسې هم دي، چې له رحمن بابا څخه وړاندې نه دي ښکاره شوي.

نه چې له ما ځي زما د اوښکو باران ګوره
رخ د سفر هیڅ نشته په دا ګڼو شېبو کې

او یا

چې پریشان د یار د زلفو په څېر نه وي
جمعیت د هغو زړونو لوی فساد دی

ځکه زلفې را ټولې او دغې پیوستون او یوون یې ښکلا څو چنده زیاته کړې ده، خو په کومو زړونو کې چې د زلفو غونډې اتفاق او اتحاد نه وي. هغه ښکلا او نیکي نه، بلکې د ټولنې لپاره د عذاب لامل ګرځي. دی زیاتوي، د رحمن بابا تغزل له هر چا نه اوچت په دې دی، چې د تغزل لپاره ړومبی شرط ساده‌ګي او پرکاري ده. بابا په عامه ساده باده لهجه کې د نزاکت او ملاحت سمندرونه ښکیل کړي دي.

چې دې زلفې د رحمن په زړه وریځ کړي
ځکه څاڅي مې له سترګو اوبه سپینې
دا زما د قاتل لاس دی نه پوهېږم
که تر باغ وتلی ښاخ دی د سرو ګلو
(یوسفزی، ۲۰۱۴. ۸۱م).

د عرفان او فلسفي سمندري توپانې څپې د غزل په نرمو او سندریزو ځروبو بهول له خیال و فکر ډېره لوړه خبره ده، چې ایله به د ذوق لاس ور ورسي. رحمن بابا په داسې ملکوتي لارو د خپل تغزل نیلی ځغلولی دی؛ لکه:

نیستي واړه د هستی په دنبال ګرځي
نه ډوبیږي په اوبو کې تش جهاز
دا قاعده ده لکه لوړ هومره ژور وي
یو صورت دي هم نشیب شي هم فراز
(رحمن بابا، ۱۳۹۳. ۱۳۵م).

د علي‌ګړ پوهنتون پخوانی استاد سید عابد علي عابد وايي، چې یو وخت له (اروابښادو) پروفیسر احمد شاه بخاري (پطرس بخاري)، تاثیر، فیض، چراغ حسن حسرت او سید امتیاز علي تاج سره ناست وم. د بخاري له مزاح نه مو خوند اخیسته، چې د اتومي ځواکمنی بحث پیل شو. یوه وویل، چې په لمر کې تودوخه نه کمېږي، ورانګې شیندل یې برابرې خوریږي او د ژوند د نشو و نما فرض ادا کوي. د دې لامل دا دی، چې د لمر دننه (بطن کې) په ټاکلي وخت اورنۍ چاودنې کېږي او دومره جوهري ذخیره جوړوي، چې تر زرونو کلونو یې وړانګې څپاندې ساتي.

ساینس‌پوهانو څو ځله دا مشاهده کړې، چې لمر پخپله د خپل اتومي ځواک انتظام کوي. بخاري صاحب په موسکا وویل، د کوم چا د اقبال داسې شعر یاد دی، چې دغه نظریه پکې وي؟ یوه ورته دا شعر ووایه:

حقیقت ایک ہے ہر شے کی، خاکی ہو کہ نُوری ہو
لہُو خورشید کا ٹپکے اگر ذرّے کا دل چِیریں

یعنې د هر شي حقیقت که خاکي دی که نوري یو دی، که د ذرې زړه څیرې شي د لمر وینې به ترې را وخوټیږي.

عابد ورته د نظیري دا شعر ووایه:

به زیر هر بن مو چشم روشنی ست مرا
بروشنایی هر ذرّه روزنی ست مرا
(عابد، ۲۰۱۱. ۲۹۴م).

د حیرانۍ وړ دا ده، چې رحمن بابا سلونه کاله له علامه اقبال رومبی دا نظریه په ډېر ښکلي شاعرانه رنګ ادا کړې ده، چې د شعر د «تالیف» ځواک او معنوي قوت یې هیڅ زیانمن شوی نه دی، بلکې لا رنګین شوی دی.

دا په هره ورځ چې خیژي ښل ښل لمر دی
هر چې پریوځي هغه نه شي ختی بیا

حضرت علامه اقبال به خامخا د راورتیې په جونګ کې لکه د خوشحال بابا د شعرونو غونډې د رحمن بابا دا نظر مطالعه کړی وي، ځکه رحمن بابا په دې باب نور ښکلي شعرونه هم لري؛ لکه:

د ذرې په څېر د لمر په طلب ګرځه
لکه تیره هسې پروت په زمین مه شه

او یا

روښنايي مې په طلب کې شوه حاصله
شپه او ورځ لکه افتاب په لار روان یم

رحمن بابا چې خپلې نظریې ته د شعر په ژبه کوم تلازم او تناسب ورکړی، هغه د سېلابونو او توپانونو نشیب و فراز نه، د سمندر د پستو څپو مد و جذر دی، چې تسلسل یې روح ته خوښي بخښي. همدارنګه یې که د شعر ساده‌ګۍ ته ځیر شئ. په لومړي ځل اسان، ساده ښکاري، خو په دغه ساده‌ګۍ کې دومره رمز ارایې وي، چې لوستونکی ورته حیران شي. د بابا له تخیله په راوریدلو ګلونو کې دومره عرفاني او فلسفي نزاکتونه پټ وي، چې له سلاسته اخوا ذهن په غېږ کې اخلي او پخپل زړه ناستي استدلال یې په ویښه خوبولی کوي. مشهور فلسفي شاعر علامه اقبال د مؤمن په باب خپل نظر نیغ په نیغه څرګندوي او وایي:

ہرلحظہ ہے مومن کی نئی شان نئی آن
گُفتار میں کردار میں اللہ کی برُہان
(اقبال، ۱۹۸۹. ٦۰م).

رحمن بابا وايي:

په هر لور یې نوې نوې تماشا ده
زه رحمن د خدای و کړو وته حیران یم

مولانا جلال الدین بلخي (رومي) دا مطلب په یو بل شکل وړاندې کوي:

پس ترا هر لحظه مرګ و رجعتی ست
مصطفی فرمود دنیا ساعتی ست
(نعماني، ؟. ۲۲۱م)

نویو څېړنو جوته کړې، چې د بدن اجزاء په ډېرې چټکۍ له منځه ځي او پر ځای یې نوي اجزاء ځای نیسي. دا بدلون دومره چټک او فوري وي، چې د جسم فنا هیڅ نه محسوسیږي. مولانا دلته دا حدیث شریف هم تطبیقوي، چې «الدنیا ساعة»؛ دنیا یوه شیبه ده. صوفیان دې حالت ته «تجدد امثال» وايي. علامه حبیبي وایي، چې موجودات د الله تعالی د کمالاتو مظهر دي. په تجلی کې تکرار نشته. د جلالي اسماو تجلا موجودات فنا کوي، خو جمالي اسما یې تر خپلو اغېزو لاندې راولي او بېرته وجود ورکوي. (هېوادمل، ۱۳۷۳. ۹۲م).

د تفکر طرز او موخه یوه ده. علامه اقبال یې د مؤمن په وجود کې مطالعه کوي؛ مولانا یې مرګ و رجعت بولي او په حدیث شریف استناد کوي، خو د رحمن بابا عرفاني مقام دومره لوړ دی، چې دغه نوې نوې نندارې پخپله ګوري. تر دې چې حیرت ته رسي، ځکه د پوهې انتها حیرت دی او حیرت د هستۍ په ناپایابه سمندر کې ورګډېدل دي.

دا سمه ده، چې رحمن بابا د پښتنو او پښتو ژبې د محاورو پابند دی او د شاعر لپاره اړینه ده، چې باید دغې چلند ته مقید وي. همدغه لامل دی، چې د رحمن بابا شعر یې د اعجاز تر پولو رسولی، چې وایي:

ای رحمانه د بلبلو ژبه زده کړه
دغه پسه په صفت د ګل اندام شه
(رحمن بابا، ۱۳۹۳. ۲۸٦م).

په ژبه د بشپړې برلاسې سربېره د رحمن بابا یو ستره ځانګړنه دا ده، چې د فطرت له هر مظهر نه یو ښکلی دلیل جوړولی شي. ده ته د فطرت ټول مظاهر د استدلال لپاره څرګندې بېلګې ښکاري. دغه لامل دی، چې ټوله شاعري یې په تمثیل ولاړه ده او بیا تمثیل په

داسې توږلي او صيقل شوي ژبې وړاندې کوي، چې ذهن يې بايد خامخا ومني. موږ د بيان علم لـه مخـې تمثـيلي تشـبيه لـوړه ارزوو، چې بلاغت يې بولو، خو په اصل کې د منطق د علم له مخې تمثيل د قياس يو ډول دی، څکه استدلال له کـلي نـه پـه کـلي يـا جزيـي باندې قياس دی، له جزيي نه کلي استدلال استقرا بولي، خو تمثيل هغه استدلال بولي، چې له جزيي نه په جزيي وشي.(الفت، ۱۳۳۵. ۳۳م).

د يـادونې وړ ده، چـې د منطـق عـالم خواجـه طـوسي پـه «اسـاس الأقتباس» کې تمثيل استدلال بولي. په دې ډول چې د يوه حال لـه مشابهت نه پر بل ورته حـال دليـل او سـند جـوړوي. علامـه شـبلي نعماني هم تمثيل ته استدلال وايي او زياتوي چې د تخيل قوت او د استدلال طرز د مروج او متداول استدلالي ډول نه جدا دی، څکه په نوي سبک او بديعي اسلوب خپله مدعا او مطلب ثـابتوي، چـې بنسټ يې خطابيات يا يو ډول مبالغه ده، خـو پـه داسـې شـکل يـې رنگ اميزي کوي، چې اوريدونکی نه شي کولی، د قضيې حق يـا بطلان ته پام واړوي او متوجه شي، خو د بيان د ښکلا او راښـکون مسـحور گرځـي او بـې اختيـاره يـې منلـو تـه سرټيټـوي. (شـفيعی کدکنی، ۱۳۶۸. ۸۴م).

د پورته يادونې په تائيد جذبه د تخيل په ژبه خبرې کـوي او تخيـل د منطق له نړۍ نه جـدا يـوه بلـه پاچـاهي ده او داسـې حکـم پـرې چلوي؛ لکه معقولات چې په منطق کې برلاسي دي.

د تمثيـل، قيـاس او اسـتدلال لـه مخـې د رحمـن بابـا شـاعري ډيـره پرمختللې ښکاري، تر دې چې تـر اوسـه پـورې بـل شـاعر دا مقـام خپل نه کړ. تمثيلونه يې حيرانوونکي دي، گام په گـام سـهل ممتنـع ښـکاري. د هـر سـاده مضـمون تـر شـا يـې د معنـی جهانونـه ابـاد ښکاري، خو لوستونکی ږومبـی پـه سـاده نقـش و نگـار چـې ډيـر فطري ښکاري، مسحور او مصروفوي؛ لکه:

باد دې چې په زلفو باندې قصد د پريشانی کړ
څکه چې يې گردونه د جهان واړه په سر دي
ما چې ستا ښايست و لمر سپوږمۍ سره په تول کړل
تللي په ميزان کې تر اسمانه سپوږمۍ لمر دي
(رحمن بابا، ۱۳۹۳. ۳۳۷م).

د رحمن بابـا د شـعر يـوه سـتره ځانگړنـه ايجـاز او اختصـار دی. د معاني پوهان د اظهار او ابلاغ درې ډوله راښـيي. يـو دا چـې الفـاظ دومره وکارول شي، څومره چې د معنی څرگنداوي لپـاره بـس وي. بل دا چې شاعر يا فنکار د توضـيح او تشـريح لپـاره لـږ څـه خبـره څرگنده (اوږده) کړي؛ د بېلگو او حوالو په وسيله نکـات او دقـايق تشريح او کومه ستونزه پاتې نه شي، دا اطناب بولي. بـل شـکل يـې دا دی، چې شاعر يا فنکار په لږو الفاظو کې ډېره معنی ځای کړي، دې ته ايجاز يا اختصار وايي. کله چې شاعر کوم ژور او تاو را تـاو کيفيت په لږو لفظونو کې راوړي او ټول دلالتونه يې لوستونکي تـه روښـانه وي، دا ذهـن تـه حيرانـوونکې حالـت او زړه تـه خوښـې بخښي. لويديز ادبپوهان هـم پـه دې انـد دي، چـې اختصـار څکـه اړين وي، چې کله د ډېرو الفاظو په هجـوم کـې د معنـی اوډون او ځلا ورکه شي، خو کلـه چـې غـوره او مـوزون الفـاظ وټاکـل شي، ايجـــــــاز او اختصـــــــار خامخـــــــا رامنځتـــــــــه کېږي.(عابد، ۲۰۱۱. ۳۰۳م).

د پوهانو په اند به داسې خيال نه وي پاتې، چې شاعرانو به کـارولی او مخيل کړی نه وي. د يوه لوی شاعر او بل هم پله ويناوال تر منځ تل داسې پيښيږي، چې په بلاغت (ادبي فنونو) کې يې توارد بولي. که څه هم د اردو ژبې لومړنی نقاد مولانا حالي وايـي، چـې لـه يـوه شاعر نه د بل هنرمن اخيستنه يوه ډېره له بلې لگول دي. همدارنگـه د تـأثر او تقليـد تـر مـنځ هـم د زمکـې او آسـمان فـرق دی. کـه انځورگری ته وگورو، هر مصور له خطونو او دايرو نه کار اخلي؛ په دې نسبت که يو مصور نقال نه شي گڼل کېدلی؛ نو بيا شـاعر او يـو لوی منلی شاعر خـو لـه دې تهمتـه پـه هـر حالـت ژغـورلی دی. د بېلگې په ډول د هندي سبک مخکښ شاعر صايب تبريزي وايي:

هر که پا کج ميگذارد خون دل ما ميخوريم
شيشهء ناموس عالم در بغل داريم ما
(صايب، ۱۳۶۵. ۱۳۶م).

رحمن بابا دې ته ورته مطلب پخپل شعر کې په يوه عجيبه حالت انځوروي، چې د ايجاز غوره بېلگه يې بايد وبولو:

چې شيشه د نام و ننگ دې شي تر څنگه
د هر چا به کجروی به خپل ځيگر خوري
(رحمن بابا، ۱۳۹۳. ۳۸۱م).

دلته خيال يـو دی، خـو د تخيـل رنگونـه بېـل دي. د رحمـن بابـا د ايجاز ځواک شعر ته يوه ښکلې بڼه ور کړې ده. معنی يوه ده، خـو رحمن بابـا پـه داسـې هـنر پيېلـې، چـې د تـاليف قـوت، سـاده‌گي، رواني، د الفاظو انتخاب او اختصـار يـې نسبت دري شـعر تـه ډېـر غوره ښکاري. موږ د صايب شعر هم لوړ گڼو او لوړ مقام لري، خو په پرتليز ډول بايد د کره‌کتنې حق ادا کړو. کـه څـه هـم د پښـتو پـه وړاندې دري ژبـه نرمـه، ښـاري او پښـتو ډېـر غرنـۍ ده، خـو د دې خيال په ادا او اوډون کې د رحمن بابا ايجاز ډېر زورور او ځواکمن دی. که څوک نيوکه کوي، چې ستر شاعر صايب ته تقدم حاصـل

دی، دا به سمه وي. امکان لري، رحمن بابا د صایب دیوان کتلی وي، خو که موږ د مولانا جلال الدین بلخي رومي او پښتون عارف شیخ متي بابا خوا ته لاړ شو، چې دواړه همزولي او بیا مولانا ډېر لېرې د ترکیې په قونیه او شیخ بابا د زابل په غرونو او دښتو کې په لاهوتي نغمو سر دی. (که څه هم متاسفانه یوه منظومه یې د پټې خزانې پر مټ تر موږ را رسېدلې) چې د ژبې په تفکیک کټ مټ له «نی نامې» سره ورته ښکاري؛ نو باید توارد ومنو او بیا چې د الهام سرچینه یې هم یوه وي.

زموږ د پنځو ستورو له منځه ډېر ځلیدلی استاد خادم د رحمن بابا په باب ښه پرېکړه کړې، هغه وایي د بابا شعر ځانګړې تمثیلي پیرایه لري اوله مسره یې لکه دعوا او دویمه یې اثبات او توضیح وي. دا پیرایه له ده وروستو شاعرانو؛ لکه حمید او شیدا له ده څخه زده کړې ده. همدارنګه د خوشحال او رحمن په موازنه کې وایي: خوشحال په ټوله معنی شاعر دی، خو د رحمن مقام له شاعره پورته دی. (خادم، ۱۳۹۷. ۱۳۵م).

**مناقشه**

پر رحمن بابا باندې د مقالې په سطحه تر اوسه داسې څه نه ښکاري، چې په‌کې په ځانګړې او مشخص ډول د ده عرفاني او هنري نوښتونو ته کتنه شوې وي. نومیالي محقق ارواښاد کامل، ارواښاد راج ولي‌شاه خټک او همدغسې په بره پښتونخوا کې علامه رشاد عالمانه لیکنې کړې‌دي، خو د دغو پوهانو لیکنې ډېرې جامع او پر هغه څه لیکل شوي، چې ورته اړتیا وه؛ لکه د رحمن بابا د مړینې کال، د رحمن بابا هر اړخیزه مطالعه او یا یې تصوف ته یوه کتنه، چې دا ټولې پر خپل ځای د لاړې مشالونه دي. خو په ځانګړي ډول د رحمن بابا عرفاني او هنري نوښتونه تر اوسه پورې چا نه دي څېړلي، خو دلته دغه برخه وڅېړل شوه، چې اړین بریښیده.

**پایله**

د پورته لیکنې په پایله کې څرګندیږي، چې رحمن بابا د یو ډول سلاست، ساده‌ګۍ تر وړانګو لاندې داسې شاعري کړې، چې له حده وتې اساني (سهل ممتنع) ورته ویلی شو. دا هغه مقام دی، چې زموږ په ګاونډیو ژبو؛ لکه دري کې هم د ډېرو لږو شاعرانو په برخه شوی دی. موږ اوس‌مهال غزل د استعارې او کنایې پر ځای رمز اراییې ته نږدې ګڼو، خو رحمن بابا چې څو پېړۍ دمخه د راز و رمز کوم بنسټ او تاداو غزل ته ور کړی دی، بېلګه یې په ستونزه موندلی شو. همدا یې د شعر هنر دی، چې په عرفان یې هنر مانیې ودانه ده او همدا لامل دی، چې هر ډول لوستونکو ته کله اخلاقي او کله دیني شاعري ښکاري او پرې پوهېږي. خو اسان خوښې باید پوه وي، چې د شعر په دې سمندر کې داسې مرغلرې شته، چې لوړ ذوق، بلاغي کړاو، عرفاني پوهه او هنري ذوق غواړي.

**ماخذونه**


اقبال. (۱۹۸۹). کلیات اقبال، ضرب کلیم. شیخ غلام علي. لاهور: انارکلي چوک.

الفت، ګ. پ. (۱۳۳۵). منطق. کابل: پښتو ټولنه.

خادم، ق. (۱۳۹۷). د خوشحال او رحمن موازنه. نابغه خوشحال(۱)، د استاد ازمون په زیار. کابل: بهیر مطبعه.

رحمن بابا. (۱۳۹۳). د عبدالرحمن بابا کلیات. د سید محی الدین هاشمي په زیار. جلال اباد: میهن خپرندویه ټولنه.

شبلي نعماني. (۰). سوانح مولانا روم. لاهور: اردو بازار.

شفیعی کدکنی، م. ر. (۱۳٦۸). صور خیال در شعر فارسی. کابل: دولتي مطبعه.

شینواری، ح. (۲۰۱۳). غنچک، د مقالو ټولګه، د کلیم شینواري په زیار. پېښور: پاک امارات پښتو ادبي ټولنه.

صایب تبریزی. (۱۳٦۵). دیوان صایب، به کوشش محمد قهرمان. تهران: شرکت انتشار علمی و فرهنګی.

عابد، س. ع. ع. (۲۰۱۱). شعر اقبال. لاهور: سنګ میل.

کامل مومند، د. م. (۱۳۸۲). رحمن بابا. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

هېوادمل، ز. (۱۳۷۳). په هند کې د پښتو ژبې د ایجاد او ودې پړاوونه. کابل: د علومو اکاډمي.

یوسفزی، ا. (۲۰۱۴). د رحمن بابا غزل. امیل. رحمن بابا نمبر. پېښور: پښتو ادبي ټولنه.